بسم الله الرحمن الرحیم

دافغانستان اسلامی آمارت

د آمارت دفتر

# د ماینونو د سترنځی په هکله دافغانستان داسلامی آمارت اعلا میه

څرنگه چی لوی او متعال خدای (ج) بشر دځمکی پر مخ خپل خلیفه گرځولی دی نو څکه داسلام په پاک او سپڅلی دین کښی دهغه ژوند او مرگ دواړو ته ډیر زیات ارزښت ورکول شوی دی. الله تعالی (ج) په قرآن عظیم الشان کښی ارشاد فرمایلی چه: ترجمه: هر څوک چه ووژنی یو نفس بی له عوض او بدل د بل نفس څخه یا بی‌فساده په ځمکه او ملک کښی نو گواکی وژلی ئی دی خلق ټول، او هر چا چه ژوندی کړ یو نفس چه سبب شی د ژوندون ئی نو گواکی ژوندی کړی ئی دی خلق ټول. (سورة المائده)

همدارنگه په یو حدیث شریف کښی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی چه: ترجمه: دایمان څه دپاسه اویا څانگی دی چه اعلی یی دتوحید کلمه او ادنی یی له لاری څخه دضرر رسونکو شیانو لیری کول دی او حیاء د ایمان برخه ده.

ډ به افغانستان کښی پر نورو ډول ډول تړلیزو او اقتصادی ستونځو سربیره یوه هم په ځنی ځمیر کښی د ماینونو موجودیت دی چه د جگړو په تیرو څو کلونو کښی ئی د ټټرونو او بڅو په گلون په زرگونو بی گناه افغانان وژلی او معلول کړی او اوس هم هره ورځ زمونږ په لسگونو بی گناه هیواد وال ددی ړوند تروریزم ښکار گرځی. همدارنگه ماینونه د افغانستان د بیا ودانولو او افغانستان ته دافغانی مهاجرینو اربه هیواد کښی دننه د بی شایه شور خلکو خپلو کورونو ته دراستیدو په لار کښی یو لوی گواښ گڼل کیږی. دافغانستان اسلامی آمارت په دی عقیده دی تر څو چه استعمال شوی ماینونه پاک شوی نه وی او دنویو ماینونو پر تولید، ساتلو، سوداگری او کارولو باندی کلک او بشپړ بندیز لگیدلی نه وی د ترازیدی به نه یواځی په افغانستان بلکه په ټوله نړی کښی همدا ... دوام ومومی. دافغانستان اسلامی آمارت د خپل اسلامی او بشر دوستانه احساس او د ماینونو د سختو ناوړه اغیزو په نظ ... تیل سره د ماینونو تولید، سوداگیری، ساتل او په کار وړل په کلکه غندی او هغه یو غیر اسلامی او د بشر پر ضد عمل بولی.

دافغانستان اسلامی آمارت په داسی حال کښی چه دماینونو پر ضد دافغانانو دمبارزی او په اړتیا کښی د ماینونو بشپړ بندیز په هکله د لاسلیک شوی تړون نه پوره پوره ملاتړ کوی دټول مسلمان ملت او نورو نړیوالو پام لاندینیو ټکو ته راگرځوی:

۱ – دافغانستان اسلامی آمارت په نړیواله سطحه دماینونو د جوړولو، ساتلو، پکارولو او سوداگری بشپړ بندیز غواړی او دهغه په عملی کولو کښی فعالی ونډی اخیستلو ته چمتو دی.

۲ – دافغانستان اسلامی آمارت په ملی سطحه دماینونو په تولید، ساتلو، سوداگری او کارولو کلک او بشپړ بندیز اعلا نوی او خپلو بیوزلو او کړیدلو هیوادوالو او ټولو نړیوالو ته زمنه ورکوی چه دافغانستان اسلامی آمارت په هیڅ ډول ماینونه په کار نه وړی.

www.theirwords.org

۳ – دافغانستان اسلامي امارت په افغانستان کښې له ټولو هغو ډلو څخه په کلکه غوښتنه کوي چه د ماینونو له ساتلو ، سوداګرۍ او کارولو څخه په کلکه ډډه وکړي او د افغانستان د بې وزلي ولس ستونزې ای ګړاونه لا نور هم زیات نه کړي.

٤ – هر هغه څوک چه په افغانستان کښې په شخصي ، سیاسي او یا نورو اختلافاتو کښې ماینونه په کار یوسي داسلامي قوانینو او اصولو سره سم به ورته مجازات ورکړل شي .

٥ – دافغانستان اسلامي امارت د نړۍ له ټولو هغه هیوادونو څخه چه دارتاوترون یې لاسلیک کړی دی او له کومې مته کوي او له هغه هیوادونو څخه چه تراوسه یې دا تړون لاسلیک کړی نه دی په کلکه غوښتنه کوي چه د ماینونو تولید ، سوداګري ، ساتل او په کار وړل سمدستي بند کړي او داوتاوا دتړ یوالي تړون درناوي وکړي .

٦ – دافغانستان اسلامي امارت له ټولې نړیوالې ټولنې او خپلو ګاونډیو هیوادونو څخه په کلکه غوښتنه کوي چه افغانستان ته د ماینونو نیږدول سمدستي بند کړي او دافغانستان د بې وزلي ولس ستونځې او کړاونه نور زیات نکړي . د افغانستان اسلامي امارت افغانستان ته د ماینونو لیږدونکي په کلکه محکوموي او دا کار له نړیوالو قوانینو څخه د هغوی سرغړونه بولي.

٧ – څرنګه چه افغانستان یو جګړې ځپلی او بې وزلی هیواد دی ، د افغانستان اسلامي امارت له نړیوالې ټولنې څخه جدي غوښتنه کوي چه په افغانستان کښې د ماینونو د پاکولو د مخوڅلاره نورې مالي او تخنیکي مرستې برابرې کړي تر څو دا هلې ځلې چټکې او اغیزمنې شي او دافغانستان بې وزلي او ځوریدلي ولس د ماینونو له شر څخه ژر تر ژره خلاص شي .

٨ – دافغانستان اسلامي امارت د نړیوالې ټولنې څخه په کلکه غوښتنه کوي چه په افغانستان کښې د لکونو په شمېر کښې د ماینونو دقربانیانو او معیوبینو د بیا رغونې له هلو ځلو سره پراخې مرستې وکړي تر څو هغوی وکولای شي له سره بیا خپل فعال ټولنیز او اقتصادي ژوند پیل کړي او دافغانستان په بیا ودانولو کښې بوره بوره ونډه واخلي .

دافغانستان اسلامي امارت په پای کښې یو ځل بیا له ټولې نړیوالې ټولنې څخه په عمومي ډول او له خپلو ګاونډیو هیوادونو څخه په ځانګړي ډول غوښتنه کوي چه د ماینونو پر تولید ، سوداګرۍ ، ساتلو او کارولو باندې د بشپړ بندیز پلوي وکړي تر څو په نړۍ کښې دې بشري تراژیدي ته ژر تر ژره پای ورکړای شي . همدارنګه دافغانستان اسلامي امارت له نړیوالې ټولنې څخه په کلکه غواړي چه په افغانستان کښې د ماین پاکۍ له هلو ځلو او د بیا ودانولو له نورو پروګرامونو سره پراخې مرستې وکړي تر څو دافغانستان جګړې ځپلي او بې وزلي خلک په خپلو پښو ودریږي او خپل عادي او رسوله ایز ژوند له سره بیا پیل کړي.

والسلام

داسلام خادم

امیرالمؤمنین (مجاهد) ملا محمد عمر اخوند

داسلام خادم امیرالمؤمنین
ملامحمدعمرمجاهد

www.theirwords.org